مرادزئ

تاریخ 28/05/2009

# پښتانه طالبان د خپل قوم په ضد جنګيږي !

د پښتنو په سيمه او شاوخوا کې ډېر قومونه پراته دي او دا قومونه هم طالبان لري ، خو يوازې د پښتنو طالبان دي چې د خپل قوم په ضد جنګيږي .
که د افغانستان په دننه نظر واچوو ، د هېواد په شمال کې چې هلته د ازبکو او تاجکو قومونو ډېرکي اوسيږي ، په نسبي ډول ارامي ده . دلته نجونه او هلکان ښوونځيو ته ځي . پوهنتونونه او د لوړو زده کړو ښوونځي فعال دي . ښځې او نارينه په ګډه دولتي چارې مخې ته بيايي . سرکونه ، پلونه او د ولسي ښېګنو نور بنسټونه جوړيږي . ورځپاڼې او مجلې خپريږي . د سپورټ لوبې اوميلې کيږي. خلک سوداګري اوراکړه ورکړه کوي . لنډه داچې د ژوند او پرمختګ ټولې نښې نښانې لېدل کيږي .
ځوک نه شي ويلئ ، چې د هېواد ازبکو ، تاجکو او نورو لږکيو منځ کې به طالبان نه وي . دا طالبان چې موږ ټولو ته ځرګنده ده چې شتون لري ، خو دوی خپله سيمه کې جګړه نه کوي . دوی خپل پوهنتون او ښوونځي نه ورانوي . خپلې نجونې او هلکان نه وژني . د خپلو نجونو پر مخ تيزاب نه پاشي . همدارنګه دوی د دولت چارواکي ، پوليس او د اردو کارکوونکي هم نه تښتوي او نه يې وژني.
په دې سيمه کې پښتانه طالبان هم ، ددې سيمې د ځايي طالبانو لاره تعقيبوي . د ويجاړی او ورانی هغه کارونه چې پخپلوسيمو يانې په پښتني سيمو کې کوي ، هغه بيا په شمال کې نه کوي .
خو د هېواد په سويل ، ختيځ ، سويل لوېديځ او لوېديځ کې چې پښتانه اوسيږي بيا هر څه بدل دي . دلته ازبک ، تاجک او نور پردي طالبان خو څه کوي چې د پښتنو خپل طالبان ، نه سمه پېژني نه غر ، هر څه چې ويني له يو مخه يې له منځه وړي .
پښتنو ته نه ښوونځی پريږدي او نه پوهنتون ! نه سرک پريږدي ، نه پلونه او نه بندونه ! نه ښوونکي پريږدي ، نه انجينراو ډاکټر ! د قوم مشران ، سپينږيري او پوهان له يومخې وژني . هنرمند او سندرغاړي خو يې تاريخي دوښمنان دي .
د پښتنو د ټولوژني او د دوی د هېواد د ورانولو لپاره يې ښې کلکې ملې رابډوهلي دي . هغه څه کوي چې په ويلو يې پښتانه شرميږي او په کولو يې ټول انسانيت !
په کوزه پښتونخوا کې هم ورته لوبه روانه ده . هلته هم دغو طالبانو يوازې پښتون قوم په نښه کړې دئ . پنجابيان ، سنديان ، بلوڅان او نور خپل ارام ژوند مخې ته بيايي . اور ټول د پښتنو په سيمه لګېدلئ دئ !
يوازې په څو روستيو اونيو کې د سوات ، بونير او دېر دوه نيم ميليون پښتانه ، له خپل تاټوبي څخه کډه کولو ته اړ کړئ شول . د سوات ښکلي او جنتي دره ، له پښتنو تخليه شوه . دلته د ساده او ولسي پښتنو ټولې شتمنی د اور خوراک شوې .
هره ورځ په سلګونو پښتانه وژل کيږي او په زرګونو نور ټپيان !
د پښتون قوم ټولوژنه ، که دا لرپښتون دئ او که بر ، ښه په درځ روانه ده . د پښتنو وطن او سيمه لوټ کيږي ، ورانيږي او ويجاړيږي . د پښتنو کلتور او تاريخ له بيخه نړيږي او ړنګيږي .
له دومره پښتون وژنو او ورانيو سره سره بيا هم پښتانه طالبان پښتنو ته د لا نور خدمت ټېر وهي ، زه له دې طالبانو پوښتنه لرم :
ايا کوز په پنجابيانو ، سنديانو ، بلوڅانو او نورو قومونو کې ؛ همدارنګه په بره پښتونخوا کې په ازبکو ، تاجکو ، نورستانيانو ، پشه يانو او نورو ورونو قومونو کې طالبان نشته ؟ دوی ولې خپلې سيمې نه ورانوي او د خپلو سيمو خلک نه وژني ؟
که تاسو واياست چې په بره پښتوخوا کې د پښتنو په ننګه ولاړ ياست او کوز هم د پښتنو د ګټو لپاره جنګيږی ، تاسو خو په دغه درواغجن سياست يوازې پښتانه تباکړل ؟
که تاسو واياست چې په افغانستان کې له تاجکو ، ازبکو او نورو څخه د پښتنو خوړل شوي حقونه اخلی او کوز هم له پنجاب څخه پښتانه ازادوی ، تاسو خو په دواړو غاړو کې يوازې د پښتنو سټه وايسته ! د هېواد په شمال کې خو د شمال غله يانې د شمالټلوالې جګړماران ، ډاکوان او لوټماران ورځ تر بلې لا د خلکو په وينو پړسيږي . تاسو خو له هغوی څخه د يوه هم ګوته ويني نه کړه !
که تاسو واياست چې د لوېديځ او امريکا په ضد جنګيږی ، تاسو خو په دې جګړې کې خپل قوم پښتانه ووژل !
که تاسو واياست چې پښتنو ته اسلام ګټئ ، لروبر پښتانه خو له پېړيو راهيسې سوچه مسلمانان دي ، د مسلمان بيا مسلمانول دا کوم ډول اسلام دئ ؟


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املایی و انشایی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد ازغور کامل بما ارسال بدارید.

که تاسو وایاست چې له القاعدې څخه په پښتني ننګه ولاړ یاست او بویه القاعده د پښتنو یاني ستاسو میلمه ده ، بیا خو دا خبره ستاسو له دې ادعا سره چې د اسلام په وړاندې بل کوم برید تاسو په رسمیت نه پیژنی په ضد کې ده ، نو څنګه په درواغو د پښتو او پښتونولی خبرې کوی !
اویا له امریکا سره د القاعدې په ننګه جګړه کوئ ، لاړ شئ دا جګړه په فلسطین کې د اسرایلو سره مخامخ وکړئ ، تاسو خو د اسرایلو پرځای د خپلو پښتنو بیخ وایست .
که تاسو غواړئ په افغانستان او یا پښتونستان حکومت وکړئ ، دا کار ولې د ټولټاکنو له لارې نه کوئ ، د واک او چوکۍ لپاره خپل قوم ولې وژنی !
تاسو د رواني جګړې لپاره هیڅ اسلامي ، پښتني او انساني دلیل نه لرئ !
تاسو د پښتنو د ملي ګټو لپاره جګړه نه کوی بلکې له پښتنو سره جګړه کوی !
د ای ــ اس ــ ای او نورو پردیو استخباراتي کړیو په لمسون ، خپل قوم مه وژنی او خپل وطن مه ورانوئ !
د پښتنو له ټولوژني او د لرې برې پښتونخوا ، له ورانولو لاس واخلئ !
له بده مرغه د پیښو بهیر څرګندوي لوېدیځ ، پنجاب ، شمالټلواله او طالبان په بېلا بېلو لارو یوه موخه تعقیبوي او هغه د پښتنو له منځه وړل دي .


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de